Sida

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
پالیسي یادښت

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره
AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره

دیوید منسفیلد
د ۱۴۰۰ لړم

# یو مالیاتي روایت: د عوایدو ناسمه محاسبه او په افغانستان کې د جګړې ناسم درک

له دوو لسیزو زیات د نشه يي توکو ناقانونه تولید ته په ملګرو ملتونو، دغه راز په ځینو لوېدیځو حکومتونو او مطبوعاتو کې له طالبانو سره د ورته پدیدې په توګه کتل کېږي. هغه اټکلونه چې له نشه يي توکو د طالبانو د پیسو ګټلو په اړه وړاندې شوي، ډېر حیرانوونکي او ان په کال کې تر سلګونو میلیونو ډالرو رسیږي. د بېلګې په توګه له نشه يي توکو او جرایمو سره د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر ( UNODC ) د راپور له مخې طالبانو په ۲۰۱۹ ز کال کې د نشه يي توکو پر کښت د مالیاتو له درکه ۱۴.۵ میلیونه امریکایي ډالر او د هغوی پر تولید او قاچاق د مالیاتو له درکه ۱۱۳ میلیونه امریکایي ډالر ترلاسه کړي وو. د ملګرو ملتونو سازمان پر بندیزونو د څار ډلې او نورو شنونکو بیا دا شمېره په کال کې تر ۴۰۰ سوه میلیونو ډالرو ښودلې ده.

د نشه يي توکو – بلواګرۍ روایت د منځ ته راتګ اساس دا فرضیه جوړوي، چې طالبان د اپیمو پر تولید، د کوکنارو پر کښت او د افغانستان پولو ته څېرمه د نشه يي توکو قاچاق پر سر د مالیاتو له درکه د پام وړ مقدار عواید ترلاسه کوي. د نشه يي توکو په قاچاق کې د طالبانو لوړپوړو مشرانو د لاس لرلو تورونو دا روایت تر دې بریده پیاوړی کړی، چې ان یو شمېر لوېدیځو نظامي چارواکو دا استدلال کړی، چې طالبان له یوې جرمي شبکې هم لوړه ډله ده چې د واکمنۍ غوښتنې داعیه یې په لومړي سر کې د نشه يي توکو په سوداګرۍ کې د لاس لرلو پر بنسټ په تحرک راغلې ده. ان تر دې چې په ۲۰۰۰ ز کال کې د طالبانو له لوري پرکوکنارو د بندیزونو لګولو ته - چې په یاد وخت کې له نشه يي توکو سره د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر د یو لوړپوړي غړي له لوري "د یوې بېساري او پام وړ لاسته راوړنې" په توګه یاده شوې وه – د ملګرو ملتونو، لوېدیځو شنونکو او ځینو تمویلوونکو له لوري د یو غولوونکي اقدام په سترګه کتل شوي. د دوی په اند یاد کار د دې لپاره وشو چې د زېرمه شویو توکو قیمت لوړ کړي، ځکه باور دا دی چې د طالبانو د مالي تمویل لومړنۍ سرچینه ناقانونه نشه يي توکي وو.

د طالبانو د تمویل په اړه د دې سنتي خبرې کاملاً برعکس د کوکنارو د تولید او د تریاکو، اپیډرین او میتافیتامین د پروسس او قاچاق د لګښت په اړه د دې شننو جزئیات د تېرو دوو لسیزو په ترڅ کې د هغو خلکو له خولې راټول شوي، چې په افغانستان کې د ناقانونه نشه يي توکو په تولید او سوداګرۍ کې مستقیماً ښکېل دي. زموږ د کار دا برخه په ډاګه کوي، چې پر نشه يي توکو د وضع شویو مالیاتو اندازه له هغه څه ډېره کمه ده، چې ملګري ملتونه او نورې ادارې يې ادعاء کوي. د بېلګې په توګه په سویل او سویل لوېدیځ کې، چېرته چې د هېواد درې برخې کوکنار تولیدیږي، بزګران د خپلو کوکنارو یوه ځانګړې اندازه پیسې طالبانو ته ورکوي، چې ۲.۵ سلنه شاوخوا کېږي او د ۱۰ سلنه عشر په پرتلې چې معمولاً په اړه يې راپورونه ورکول کېږي، ډېره کمه ده. په ورته ډول د یو کیلوګرام هیروئینو پر سر ۲ امریکایي ډالر اخېستل کېږي، خو د یو کیلوګرام هروئینو د خرڅلاو قیمت د ۱۴۰۰ او ۱۹۰۰ سوه امریکایي ډالرو ترمنځ دی. په حقیقت کې که چېرې ۱۰ سلنه مالیات ترې راټول شوي وای، لکه څه ډول چې ادعاء کېږي نو د هروئینو تولید بې ګټې کېده. دا کار د ۱۰ سلنه مالیاتو اداري او اقتصادي ناشونتیا ته هم اشاره کوي.

دا یو سراسري شننه هغو عوایدو ته اشاره کوي چې پر کوکنارو د مالیاتو له درکه راټولیږي او په ۲۰۲۰ ز کال کې یې اندازه تر ۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو رسېده. پردې سربېره د چرسو او میتافیتامین له تولید او سوداګرۍ هم تر ۱۵ میلیونه امریکایي ډالرو عواید راټول شوي. دا اندازه له هغو پیسو ډېره کمه ده، چې طالبان يې پر قانوني توکو د مالیاتو له لارې ترلاسه کوي. د اټکل له مخې طالبانو په ۲۰۱۹ ز کال کې یوازې ۸۳.۴ میلیونه امریکایي ډالر له ایران څخه پر ټرانزیټي توکو او تېلو د مالیاتو له درکه راټول کړي وو. بل خوا په نیمروز ولایت کې، چېرته چې د کوکنارو او میتافیتامینو دواړو تولید کېږي دغه راز پاکستان او ایران ته د قاچاق کېدونکو نشه يي توکو لپاره یو عمده لاره ده، طالبانو په ۲۰۲۰ ز کال کې په اټکلي توګه له نشه يي توکو ۵.۱ میلیونه امریکایي ډالر ترلاسه کړي، چې دا پیسې په یاد ولایت کې د طالبانو له لوري د ټولو راټولو شویو عوایدو یوازې ۹ سلنه جوړوي. ځکه په یاد ولایت کې د زرنج او دلارام پر لاره د قانوني توکو پر سر د مالیاتو له درکه ۴۰.۱ میلیونه امریکایي ډالر راټول شوي وو.

په اوسني وضعیت کې چې طالبان پر کابل واکمن دي او بشري بحران د منځ ته راتګ په حال کې دی، دا ګواښ شته دی چې د دوی د تمویل سرچینو کره ارزونې ته هم د یو اړخیز نظر په توګه وکتل شي، په تېره بیا کله چې دا ارزونه د طالبانو لومړنۍ منبع په توګه د ناقانونه نشه یي توکو رایج روایت ننګوي. مګر خبره دا نه ده: د طالبانو د مالي منابعو په سم ډول تشریح د طالبانو له رژیم سره د خواخوږۍ معنا نه لري. دا پاڼه د هغو پیسو مقدار په ډاګه کوي، چې د طالبانو له لوري ترلاسه کېږي او په راتلونکې کې نه یوازې په افغانستان بلکې په شړېدلو او جګړه ځپلو هېوادونو کې د دولتي او غیردولتي ډلو د تمویل منابعو د ارزونې لپاره هم یوه استیناف غوښتنه وړاندې کوي، چې باید هغو عیني واقعیتونو ته د فرضیوي اټکلونو پرځای ډېر پام وشي، چې پر شواهدو ولاړ وي او د غوره تګلارو په ترڅ کې راټول شوي وي.

په افغانستان کې د طالبانو د تمویل سرچینو په اړه ناسم اټکلونه او له یادې ډلې د نشه یي توکو – بلواګرۍ آنځور له موږ سره مرسته نه کوي. ناسم درک د بلواګرۍ په پېژندلو کې د لوېدیځو ډیپلوماټانو او پوځي چارواکو وړتیا ته صدمه رسوي ځو د بلواګرۍ د تمویل سرچینې، انګېزې، ملاتړې او سیاسي موخې وپېژني. د ناسمو روایتونو په اډانه کې چمتو شویو پالیسیو لکه په زور د کوکنارو اړول او د هروئینو د لابراتوارونو بمبار د کلیوالي سیمو وګړي له مرکزي دولت ګوښه کړل او بزګران یې له طالبانو سره مرستې ته په دې باور اړ کړل، چې ګوندي بلواګر کولای شي د افغان حکومت او د هغوی بهرنیو ملاتړو د نشه یي توکو ضد پالیسیو په وړاندې یې دفاع وکړي. د طالبانو ضد پروپاګندا د افغانستان خلکو په راخپلولو کې پاتې راغله، ځکه د دوی خپله تجربه دا وه چې تر طالبانو زیات حکومتي چارواکي د نشه یي توکو په قاچاق او پیسو اخېستلو ته د زمینې په مساعدولو کې ښکېل دي. د دغه فساد او د بهرنیو تمویلوونکو په ګډون د طالبانو د تمویل نورو سرچینو په مخنیوي کې پاتې راتلل د امریکا متحده ایالات او د دوی متحدین د افغان جمهوریت په وړاندې له ګواښونو سره د مبارزې او د سیاسي او نظامي ځواک په توګه د طالبانو د راپورته کېدو په مخنیوي کې پتې سترګې وساتل.

په راتلونکو میاشتو کې نړیوالې ټولنې ته دا اړینه ده، ځو دې ته پام وکړي، چې افغانستان د دولت له نسکورېدو ځنګه مخنیوی کولای شي. راپورته کېدونکی اقتصادي بحران چې تر ډېره بریده په کې وچکالي ونډه لري، د کرونا ناروغي، بندیزونه او د حکومتي چارواکو د ګمارلو په برخه کې د طالبانو پرېکړې چې د تمویلوونکو او خصوصي پانګه والو د باور په راجلبولو کې ډېره کمه ونډه لوبولای شي، ان کولای شي د لا ډېرې سیاسي بې ثباتۍ لامل شي. په اوسني چاپېریال کې دا ستونزمنه ده ځو دې ته وکتل شي، چې طالبان به ځنګه وکولای شي په کال کې له ۰.۷۵ میلیارد امریکایي ډالرو زیات عواید راغونډ کړي او د ۱۹۹۰یمې لسیزې ساده او کوچنې دولت ته د راګرځېدو زیات ګواښ شته دی. په یاد وخت کې د طالبانو رژیم ډېر ورو پر امنیت او عدالت تمرکز وکړ او لومړنې خدمات د بشري مرستو تر عنوان لاندې د ملګرو ملتونو سازمان په ځېر د نورو ادارو له خوا وړاندې کېدل.

طالبان د نړیوالو مرستو په غیاب کې په ملي عوایدو کې د راغلي کسر پوره کولو لپاره د عوایدو راټولولو یوازې ځو لارې لري. له ګاونډیو هېوادونو سره د قانوني توکو سوداګري په ښکاره د طالبانو د تمویل لپاره ډېره حیاتي ده، که ځه هم له یو لړ لوړو ژورو سره بیا هم جریان لري، خو یاده سوداګري هم له اقتصادي بحران اغېزمنه کېږي. د قانوني توکو سوداګري د طالبانو لپاره د سوداګرۍ رسمي او نارسمي ټولو لویو لارو تر نیولو وروسته د بل هرڅه په پرتلې ډېره اړینه ده. پر طالبانو د فشار وسیله لومړی د ګاونډیو هېوادونو په واک کې ده، ځکه هغه اقدامات چې د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ سوداګري محدودوي، کولای شي د بشري بحران ګواښ لا ډېر زیات کړي.

کلیوالي سیمو ته د مالیاتي ستنو په غځولو کې طالبانو ځان اغېزناک ثابت کړی، ځکه پر ځمکو، حاصلاتو (نه یوازې کوکنارو) او په ځینو سیمو کې یې د ځمکې لاندې اوبو پر کارولو هم مالیات وضع کړي دي. دې ستراتیژۍ له کلیوالي وګړو سره د اړیکې ټینګښت او د طالبانو د مالیاتي ستنو په زیاتولو کې مرسته کړې ده. دا هغه څه دي، چې پخوانی حکومت یې په ترسره کولو کې پاتې و او د مرسته کوونکو پر پیسو یې تکیه غوره ګڼله. دا به هم د نوي حکومت لپاره د عوایدو راټولولو یوه ارزښتناکه سرچینه وي. د نشه یي توکو سوداګري، که څه هم د طالبانو لپاره د عوایدو لومړنۍ سرچینه نه ده، خو د ناځاپي اقتصادي رکود له امله به د کلیوالي وګړو د ژوندانه د تامین یوې اړینې سرچینې په توګه پر خپل ځای پاتې شي. د اقتصادي بدیل په نه شتون کې پر طالبانو د کوکنارو پر تولید د بندیز لپاره فشار راوړل به ډېره کمه پایله ورکړي، ډېر تمرکز باید د نشه یي توکو کاروونې ستونزې پر هواري او د تدارکاتي زنځیر په اوږدو کې د سازمان شویو جرایمو پر مضرو اغېزو وشي.

بالاخره، موږ ټول باید د ارقامو او معلوماتو په کارولو کې کره عمل وکړو، حتی د هغو ارقامو او معلوماتو په کارولو کې هم باید له کره کتنې کار واخلو چې د ملګرو ملتونو په ځېر د نړیوالو ادارو له لوري وړاندې شوي وي. د چټکو ارقامو په وړاندې کولو په تېره بیا د افغانستان په ځېر په شړېدلو او جګړه ځپلو هېوادونو کې اړیني ننګونې پرځای پاتې دي، مګر د سپوږمکۍ لوړ کیفیت آنځورونو په مرسته او د افغانستان په ځېر هېوادونو کې د ځایي اقتصاد د تحرک پر ځرنګوالي لا ډېر پوهېدل په دې کې مرسته کوي، ځو هغه ارقام او روایتونه تصحیح شي چې د پالیسۍ جوړونکو او پروګرامونو پر لاره اچوونکو ادارو له لوري وړاندې شوي وي. که څېرې موږ د راکړل شویو ارقامو په اړه په خپله ارزونه کې جدي او منتقد ونه اوسو، په تېره بیا په داسې یو وخت کې چې د بندیزونو وضع کولو او بشري مرستو دواړو لپاره غوښتنې ورځ تر بلې زیاتېږي، یوازې د هغو تېرو پالیسیو په تدوین کې د تېروتنو تکرار دی، چې نه یوازې له موږ سره خپلې موخې ته په رسېدو کې مرسته کوي، بلکې لا ډېرې ستونزې زېږوي.

## وړانديزونه

**نړيوال لوبغاړي بايد په دې پوه شي، چې پر طالبانو د فشار وسيله لومړی له ګاونډيو او بيا د سيمې له هېوادونو سره په سوداګريزو اړيکو کې نغښتې ده.** څېړنې د طالبانو د عوايدو لپاره د پولې دواړو غاړو ته د قانوني توکو د سوداګرۍ اهميت ته اشاره کوي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزيټي سوداګرۍ تړون په رسيمت پېژندلو، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د رسمي بندرونو پرانېستلو او د افغانستان له لارې د مرکزي آسيا جمهوريتونو او پاکستان ترمنځ په سوداګرۍ کې د اسانتياوو رامنځ ته کولو په ګډون د پولو دواړو غاړو سوداګرۍ پراختيا په برخه کې د پام وړ پانګونې شوي دي، چې زياتره يې په يوازې ځان د يو يا هم د ګڼ شمېر تمويلوونکو له لوري حمايه شوي دي. دا هغه نوښتونه دي، چې افغان وګړو دغه راز د طالبانو رژيم دواړو ته ګټه رسوي، خو د دې نوښتونو عملي کول ډېرې ژورې پاملرنې ته اړتيا لري.

**د نشه يي توکو په کښت کې له کمښت سره د پراختيايي مرستو مشروط کولو ته هېڅ ځای نه دی پاتې، ځکه دا کار نتيجه نه ورکوي.** هغه درسونه چې په ۲۰۰۱ز کال کې د کوکنارو پر توليد د طالبانو له لوري د بنديزونو او ورپسې د کرزي دوو دورو حکومتونو پرمهال د بنديزونو له تطبيق ترلاسه شوي، بايد په اوس وخت کې ترې ګټه پورته شي. نړيوال تمويلوونکي بايد د نشه يي توکو استعمال له منځه وړلو او د ارزښتيز ځنځير په اوږدو کې د سازمان شويو جرايمو خطرناکو اغېزو له منځه وړلو ته ډېر پام وکړي.

**د ملګرو ملتونو سازمان د بنديزونو د څار ډلې جوړښت او تحليلي ظرفيت اصلاحاتو ته اړتيا لري.** د ملګرو ملتونو سازمان پر بنديزونو د څار ډله د تحليلي ظرفيت له مخې کمزورې ده، څو غړو دولتونو ته د هغه مقدار عوايدو د ارقامو په اړه سلا مشوره ورکړي، چې طالبان يې ترلاسه کوي. ياده ډله ډېره زياته د حکومتونو پر رسمي روايتونو او د ملګرو ملتونو سازمان اړوند ادارو پر نظرياتو متکي ده، خو په دې کې پاتې راغلې څو د جغرافياوي تحليلونو په ګډون د افغان اقتصاد څرخ د څرنګوالي په اړه ژوره څېړنه وکړي. د بنديزونو د احتمالي دوام په ترڅ کې د راتلونکو بشرپاله مرستو او پراختيايي پيسو پر لګښت د څارنې لپاره، د ملګرو ملتونو سازمان پر بنديزونو د څار ډلې پر ظرفيت يوې بېړنۍ کتنې ته اړتيا ده، څو وکولای شي خپل ماموريت په سم ډول ترسره کړي.

**ډېره د پام وړ دا، چې د طالبانو د تمويل منابعو په اړه علمي مقالې او مطبوعاتي کار له کم دقت برخمن دی او بايد د رسمي ارقامو په واسطه ونګول شي.** زياتره وخت دا ډول اټکلونه يوازې تر حدس رامحدود وي او په ماتو دغه راز جګړه ځپلو دولتونو کې د سوداګرۍ لوړ لګښت په پام کې نه نيسي، چې پايله يې د بلواګرو ډلو د تمويل په اړه له مبالغې ډک اټکلونه کېږي. تا ويل ما ويل او شايعات، حتی که په معتبرو ژورنالونو کې هم خپاره شي، د کره او ژورو څېړنو ځای ناستی نه شي ګرځېدلای. د افغانستان په باره کې بايد وو ايو، چې د طالبانو د تمويل په اړه زياتره ارقام غولوونکي دي او د داسې پاليسيو په رامنځ ته کولو کې يې مرسته کړې ده چې د کليوالي سيمو وګړي يې يوې څنډې ته کړي او له پامه غورځولي، او تمويلوونکي يې افغان جمهوريت ته د رامنځ ته کېدونکو خطرونو په اړه پټې سترګې کړې او نه دي توانېدلي څو د يوې نظامي او سياسي ډلې په توګه د طالبانو له راپورته کېدو سره مبارزه وکړي. چارواکي بايد د ارقامو په کارولو او د دې ارقامو د توليد لپاره د کارول شويو تګلارو په اړه په خپل قضاوت کې له ډېر دقت کار واخلي او چېرته چې اړتيا وي پر پياوړو تګلارو(مېتودونو ) بايد پانګونه وکړي.

لیکوال ډیویډ منسفیلد

ژباړه: احسان الله ځیرک


د خپرونې کوډ: ۲۱۰۲ پ

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

### مالی مرسته کوونکې:


د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویدن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

Global Challenges Research Fund (GCRF), the World Bank, the Foundation to Promote Open Society (FPOS), (CMI) and Institute of Development Studies (IDS).